

: pashto
Informasjon til enslige mindreårige asylsøkere

NOAS

# د کم عمره بې مله پناه غوښتونکو لپاره معلومات

هغه کسانو لپاره چې عمر يې د 15 او18 کلو ترمينځ وي

هغه کسان چې عمر يې له 18 کالو څخه کم او يوازې يعنی به غير د مور او پلار او يا کوم بل څارونکی څخه ناروې ته د پناه غوښتلو لپاره راشی، مونږ داسی پناه غوښتونکو ته د بی مله زيرسن پناه غوښتونکی په نامه يادوو.

په دغه رساله کښې تاسو ته  د پناه غوښتنې پروسه، کله چې تاسو په ناروې کښې پناه غوښتنه ورکوئ او ستاسو د حقوق او مکلفيتونو په هکله د بی مله زير سن پناه غوښتونکي په توگه، معلومات ورکول کيږی.

## د ستاسو کورنۍ په هکله په خپل هيواد کې:

که چيرې (يو.دی.آی) نه پوهيږي چې ستاسو کورنۍ چيرې ده، نو کيدای شي چې  هغوی ولټوی. دا ضروری ده چې تاسو په خپله د خپلو کورنيو په هکله معلومات ورکړئ.

ضروری ده چې تاسو د خپلې کورنۍ او د هغوی د موقعيت په هکله معلومات ورکړئ.

کيدای شي چې يو.دي.آی د ستاسو د کورنۍ پلټنـه وکړي.

## 1. څوک د پناه غوښتنې حق لري؟

- که چیرې تا سو بیرته خپل هیواد ته ستون شئ او هلته ستاسو ژوند د مرګ د خطر او یا د شکنجه او یا د جدی تیری سره مخامخ کیږی نو تاسو د پناه حق لرئ.

- که چیرې د ستاسو په هیواد کښې حکومت وکولې شي چې تانه حمایت وکړی، او یا ستاسو په هیواد کې یو داسې سیمې وي چې هلته امنیت وی، نو معمولاً تاسو په ناروې کې د پناه غوښتنې حق نه لرئ.

- په ناروې کې د پناه لاس ته راوړلو شرایط د بې مله کوچنیو پناه غوښتونکو لپاره اکثراً د بالغو پناه غوشتونکو پرتله آسانه ده.

- دا چې څوک د پناهندګی حق لري هغه د بین المللي قراردادونو له لارې فیصله کیږی کوم چې ناروې هم مکلف دی چې تعقیب یې کړی.

## 2. چاته د بشري پر ملحوظاتو باندی د اوسیدلوو اجازت ورکول کیږي؟

- چاته چې سیاسی پناهندګی ورنکړل شی، نو په هغه صورت کې چاروا‌کې ګوری چې تاسو کښې یو داسې قـوي بشري دلایل یا تاسو په ناروې کښې یوداسې ځانګړي اړیکې موجود وي چې تاسو ته بشری پناهندګی ورکړل شی.

## 3. چاته د اوسید لو موقته اجازه ورکول کیږي؟

- یوازنی دلیل چې تاسو ته اجازه ورکول کیږي چې په ناروې کې پاتې شئ دا دی چې ( یو.دي.آی) مطمین نه وی که چیرې تاسو بیرته خپل هیواد ته ستون شئ، تاسو څخه مناسب پاملرنه کیږی که نه؟ په هغه صورت کښې تاسوته تر یو ټاکلې مودې پورې د اوسیدلو اجازه درکول کیږی. دا هغه کسانو لپاره ده چې عمر یې له 18 کالو پورته وی کله چې یو.دی.آی د هغوی غوښتنه باندې غور کوی.

- دغه ډول اجازه تر هغه وخته پورې اعتبار لرې چې تاسو 18 کلن شئ.

- دغه ډول اجازه نه تمدید یږی او ستاسو کورنی حق نلری چې ناروې ته راشی.

## 4. کوم هیواد ستاسو د پناه غوښتنې پر عریضه باندې فیصله کوي؟

- ټـول هغه کسان چې په ناروې کې د پناه غوښتنې په خاطر عریضه ورکوي د هغوی عریضې په ناروې کې نه فیصله کیږی. یو شمیر اروپایي هیوادونو د ډوبلین د همکارۍ په نامه یو قرارداد لری. دا په دې معنی چې یوازې یو هیواد د ستا سو د پناغوښتنې د فیصلې ډنده په غاړه لری.

- که چیرې تاسو ناروې ته له راتګ نه مخکښې په کوم بل اروپایي هیواد کې د پناه غوښتنې عریضه ورکړې وي، یا ستا سو والدین او یا کوم بل کس چې د والدین حیثیت لری په نوموړی هیواد کښې موجود وی، نو نارویژي چاروا‌کې کولای شي تاسو هغه هیواد ته ولیږي، تر څو چې ستاسوغوښتنلیک هلته فیصله شي.

- نارویژي چاروا‌کې کولای شي ستاسو د ګوتو د نښو له لیارې دا معلومات تر لاسه کړی چې آیا تاسو په کوم بل هیواد کې پناهندګی ورکړې او که نه.



- که چیرې د ناروې چارواکي تاسو کوم بل آروپايي هیواد ته واستوي، نو تاسو حق لرئ چې د هغوی د پریکړې په مقابل شکایت وکړئ او ستاسو وکیل پدی هکله تاسره مرسته کوي.

- که چیرې تاسو په کوم بل اروپايي هیواد کې د پناه غوښتنې غوښتنه کړې وي، تاسو په دې هکله (نواس) سره د مرکې پر مهال خبرې کولای شې، تر څو چې تاته مفصل معلومات ورکړل شي.

## 5. په ناروې کې څوک ستا د پناه غوښتنې په غوښتنلیک فیصله کوي؟

UDI د ناروې د دولت یوه څانګه ده. هغوی له تا سره مرکه کوي او پریکړه کوي، چې آیا تاسوته د اوسیدلو اجازه ورکړې او که نه. UDI (د ناروې د کډوالو اداره) هر یوه غوښتنلیک ته په خورا پاملرنې سره ارزښت ورکوي او هر غوښتنلیک په ځانګړې توګه تر غور لاندې نیسي.

## 6. کله چې د پناه اخیستولو لپاره عریضه ورکوئ ورسته به څه کیږي؟

**لمړی خپل ځان د پناه غوښتونکي په توګه له پولیسو سره ثبتوئ**

- پولیس ستا عکس او د ګوتو نښه اخلي، هغوی د نورو موضوعاتو تر څنګ دا پوښتنه کوي چې ته څوک یې او ناروې ته په څه ډول راغلی یې.

- که تاسره پاسپورټ یا نور سند ونه وي، چې څرګندوي ته څوک یې، نو مهمه ده چې دغسې سندونه د راجسترولو په مهال دوی ته وسپارئ.



**تاسوته په یو کیمپ کښې ځای ورکول کیږي**

- له ثبت کیدوڅخه وروسته تاسو به یوه داسې کیمپ کښې ځای په ځای کیږئ چې زیر سن کډوالو لپاره جوړ شوی دی. تاسو به هلته د څو لمړیو ورځو لپاره استوګنه کوئ.

- هغې نه وروسته به تاسو یوه بله کیمپ ته ورل کیږئ.

- که چیرې ستاسو عمرله 16 کالو څخه کم وي، او دا احتمال موجود وی چې تاسو دري میاشتو نه زیات په ناروې کښې پاتې کیږئ نو تاسو هم حق او هم مکلفیت لرې چې ښوونځي ته لاړ شئ. که چیرې ستا سو عمر 16 او 19 کلونو تر مینځ وي، نو تاسو کولای شئ چې ښوونځي ته لاړ شئ، مګر دي کار ته کوم مکلفیت نلرئ .

- که چیرې تاسو کومه ستونزه لرئ نو مهمه ده چې ته د کیمپ د کارکوونکو سره پرې خبرې وکړې؛ هغوی به ستا خبرو ته غوږ نیسي او د ضرورت په صورت به تا سره مرسته وکړي. د کیمپ کارکوونکي ستاسو د ورځینی پاملرنې لپاره مکلف دي.

**تاسو نه د توبرکلوز معاینه اخیستل کیږئ**

- په کیمپ کښې د لومړیو څو ورځو په ترڅ کې تاسو نه به د سل د مرض معاینه ترسره شی. دا معاینه ټولو کسانو لپاره جبری ده. که چیرې تاسو په سل اخته یاست، نو تاسو تداوی کیږئ.

- که داسې یو جدی ناروغی ولرئ چې تداوی ته اړتیا وی نو تاسو مکلف یاست پدې هکله صحی دفتر ته اطلاع ورکړئ.

**NOAS (نواس) تاسوته معلومات او لارښودني وړاندې کوی**

- نواس(د کډوالو لپاره ناروېژی سازمان) تاسوته د پناغوښتنې د پروسې په هکله یوه معلوماتی فلم په یوه داسی ژبه باندې وړاندې کوی چې تاسو په یې ښه پوهېږئ.

- د فلـم له کتلو څخه وروسته د نواس یوه کارکوونکی به تاسو سره خبرې وکړي. خبرې اترې به په هغه ژبه وي چې تاسې پری ښه پوهیږئ. تاسو ته د پناه غوښتنی د مقصد په هکله اوهمدا راز ستاسو د حقوق او مکلفیتونو په هکله معلومات درکول کیږی. دغه خبرې اترې به تاسو د پناه غوښتنې د مرکې لپاره چمتو کړي. دا مهمه ده چې تاسو ټول هغه پوښتنې چې د پناه غوښتنې په اړه لرئ پوښتنه وکړی.

- نواس یوه غیر دولتی او د بشری حقوقو لپاره یوه سازمان دی، چې په ناروې کې د پناه غوښتونکو د حقوقو لپاره کار کوي.

- د نواس کارکوونکي د راز ساتلو ژمنه لری. دا پدې معنی چې ستا خبرې بل چاته نه ویل کیږی یعنی نه یو.دی. آی ته، نه پولیس ته او نه هم بل چاته. نو له همدې امله تاسود پناهندګی دلیلونو د مفصل معلوماتو ورکولو څخه مه داریږئ.

**تاسوته یو سرپرست هم ټاکل کیږی**

- ستاسو موقتي سرپرست یو مشر کس وی او هغه هڅه کوی چې ستاسو حقوق رعایت شی. دغه موقتي سرپرست د میندې او پلرونو په شان تاسو لپاره فیصلې او تصمیمونه نیسی.

- ترهغه وخته پورې چې ته دلته پرته د مور او پلار نه ژوند کوئ او اتلس کلنی عمر ته ندی رسیدلی نو د موقتي سرپرست حق لرې.

- ستا سو لنډ مهال سرپرست (UDI) لپاره کار نه کوي.

- ستا سرپرست به (UDI) سره د پناه غوښتنې د مرکې په ورځ تا سره یوځای حاضریږي.

- که چیرې کوم بل نوې کیمپ ته منتقل شئ، نو ستا لپاره یو نوئ سرپرست ټاکل کیږي.

**تا لپاره یو وکیل هم ټاکل کیږي**

- وکیل هغه کس دئ چې په ناروېژي قوانینو باندئ ښه پوهیږي او تا سره د پناه غوښتنې غوښتنلیک په اړه مرسته کوي.

- دهغه کسان چې عمر یې په واضع توګه له 18 کلنی نه کم وي هغوئ ته د (UDI) سره د مرکې نه مخکښې په وړیا توګه یو وکیل ټاکل کیږی. نورو ته د سن د معاینې څخه وروسته او یا مصاحبې څخه وروسته وکیل ټاکل کیږی.

**(UDI) تاسو سره مرکه (مصاحبه) کوي**

- د پناه غوښتنې مرکه تا سو لپاره یو ډېر مهم امکان دي چې تاسو (UDI) ته واضح کړئ، چې ولې تاسو د پناهندګی غوښتنه کوې او هغوی ته ووایې، چې که چیرې بیرته خپل هیواد ته ستون شئ څه ویره لرئ. باید په ځانګړی توګه او په تفصیل سره هغوی ته څرګنده کړې.



- د مرکي په دوران کي، ته باید هغوی ته څرګنده کړئ چي ته څوک يي،او همدارنګه د خپلي کورنۍ او ناروې ته د سفر په هکله هم څرګندوني وکړئ.

- د مرکي په ورځ به د (UDI) له لورې یو مرکچي، ستا موقتي سرپرست اوهمدارنګه یو ژباړون به تاسره حاضر وي.

- د ژباړون وظيفه صرف دادئ چي ستاسي خبرې یو بل ته ترجمه کړی. ژباړون په هيڅ ډول حق نلری چې هغه څه چي د مرکي پر مهال ليدلي يا اورېدلي دي بل چاته ووايی.

**د سن معــاينه**

- په ناروې کي عمر ډېر اهميت لري، کله چي تاسو د پناه غوښتنه کوې. هغه پناه غوښتونکی چې عمر يې له 18 کلو څخه کم وي هغوی د ماشومانو په توګه په نظر کې نيول کيږي نو له همدې امله هغوی د لويانو پرتله زيات حقوق لري.

- څرنګه چي کوچنيان پناه غوښتونکی د لويانو په پرتله زيات حقوق لری، نو کيدای شی چي ځيني لويان هم ووايی چي هغوی زير سن دی. ځينی خلک چي د پناه غوښتنه کوي د خپلو عمرونو په باره کي شکمن وي. په همدې خاطر (UDI) ټول هغه کسان چي د 15 او 18 کلونو ترمنځ وي د سن د معايني وړانديز کوی.

- د سن معاينه يوه طبي معاينه ده، کوم چي ستاسو تقريبي سن ښودلی شی. ددغه معايني په هکله تاسو ته بشپړ معلومات ورکول کيږی.

- (UDI) نورو امکاناتو ته هم کتنه کوی چي ستاسو د عمر په ټاکلو کي مرسته کولای شي، لکه د هويت کارټونه، شهادتنامي او له نورو هيوادونو څخه معلومات. دا مهمه ده چي تاسو هم د خپل سن او هويت د ثابتولو په اړه برخه ونيسئ.

- سن معاينه کول په خپله خوښه ده. که تاسو نه غواړئ چي عمر مو معاينه شي نو کيدای شی چي تاسو د لويانو په جمله شامل شئ. او دا به ستا د عريضي لپاره اغيزه ولري.

- که چيرې قصداً غلط عمر څرګند کړئ، او(UDI) دا پرېکړه کړي چي تاسو په ناروې کي پناه غوښتني ته اړتيا نلري نو کيدای شی چي تاسي دغه هيواد څخه وشړی، د شړلو نتيجه به داوی چي تاسو ته به راتلونکی کښی ناروې يا نورو اروپايي هيوادونو ته د راتک اجازه ورنکړل شی.

- که چيرې (UDI) پرېکړه وکړي، چي ستا عمر له 18 څخه لوړ دی، نو بيا تا لپاره سرپرست يا قانوني وکيل نه ټاکل کيږی.
ستا لپاره به قانوني وکيل هغه مهال وټاکل شي چي ستا غوښتنليک رد شي.



## د (UDI) له خوا ځواب دوه امکان لري:
## د اوسیدلو اجازه یــا منفی ځواب

**ستا قانوني وکیل به تاته وايي، چې آیا تاته د اوسیدلو اجازه درکول کیږي او که نه.**

**که چیرې تاته د اوسیدلو اجازه درکړل شی، نو تاته به په یوه ولایت کښې ځای درکول کیږی.**

- د کیمپ کارکوونکي به تا ته پدې هکله مفصل معلومات  درکوی.

**که چیرې تاته د اوسیدلو محدود اجازت درکړل شی، نو ته به یوبل کیمپ ته ولیږدول شــــــي.**

- تاسو کولای شي چي ددې پریکړې په مقابل اعتراض وکړئ. ستا وکیل به له تا سره پدی هکله مرسته کوي.

- د کیمپ کارکونکی به تاته په دې هکله مفصل معلومات درکړی.

**که چیرې ستاسو غوښتنلیک رد شی، تاسو کولی شئ چې اعتراض وکړئ.**

- د اعتراض لیک تر ځوابه پورې معمولاً تاسو کولای شئ په ناروې کې پاتې شئ.

- ستا وکیل به له تاسره د یو شکایت لیک په لیکلو کې مرسته کوي ترڅو چې د ناروې چارواکې یو ځل بیا ستا د پناه اخیستلو په غوښتنلیک غور وکړي.

**که ستا غوښتنلیک بیا هم رد شو، نو ته باید بیرته خپل هیواد ته ستون شئ.**

- ته خپل هیواد  ته د بیرته ستنیدو په اړه د کډوالو د نړیوال تنظیـم (IOM) څخه مرسته غوښتلی شئ، هغه ستا د بیرته ستنیدو ټول مصارف په غاړه اخلي او تاته به د سفر سندونه جوړ کړی.

- د کیمپ کارکوونکی به تاته د بیرته ستنیدو په هکله مفصل معلومات درکړی.



## که تاسو بیرته خپل هیواد ته ستنیدل غواړئ، نو تاسوسره مرسته کیږی.

- تاسو مخکې له دې چې د (UDI) لخوا د خپل شکایت کوم ځواب ترلاسه کړئ او یا خپل غوښتنلیک ته انتظار باسئ یا ستاسو د پناه غوښتلو غوښتنه یوځل رد شوې وي، هم تاسره مرسته کیږی که بیرته خپل هیواد ته ستون شئ.

- ستا سرپرست هم باید موافق وی.

- د کډوالو نړیوال تنظیم (IOM) تاسو سره د سفر په اړوند مرسته کوی، او د سفر لګښتونه او داسنادو ترلاسه کولو کښې مرسته کوي.

- که چیرې په خپله خوښه او د (IOM) له لارې خپل هیواد ته بیرته ستون شئ نو تاسوته پیسې هم ورکول کیږی. د ناروې دولت په ځینو هیوادونو کښې د بیرته تګ لپاره د مرستې ځانګړی پروګرام لري. که چیرې ستاسو په هیواد کې هم یو داسې کوم پروګرام وي، نو کیدای شي تاسو سره مالی مرسته هم وشی که بیرته خپل هیواد ته ستون شئ.

- تاسو هم کولای شئ چې خپل هیواد ته د بیرته ستنیدو په هکله د کیمپ له کارکوونکو څخه مفصل معلومات تر لاسه کړئ.

**د پنــاه غوښتنې د مرکې په هکله ځینې مهمې مشورې**

- په تفصیل سره باید ووایئ چې ولې هیواد پریښودلو ته مجبور شولې، او که بیرته خپل هیواد ته ستون شئ څه ویره لرئ

- خپله ویناوې خپل ځان باندې متمرکز کړئ چې په تا باندې څه تیره شوې او که بیر ته خپل هیواد ته ستون شې نو څه به پیښ شی.

- د خپل سن په هکله صحیح او مفصل ځوابونه باید ورکړئ.

- ترممکنه حده پورې باید دقیق وغږیږئ.

- که تاسو سره ماشومان وی، نو د هغوی د وضعیت په هکله او څه چې هغوی باندې تیر شوې معلومات ورکړئ.

- که کومې پوښتنه باندې پوه نشې، نو مصاحبه کوونکې څخه پوښتنه وکړئ چې تاته تشریح درکړی.

- که تاسو سره داسې سندونه وې، چې د پناه غوښتلو پورې ا ړیکې ولري، نو د مصاحبې په ورځ یې له ځانه سره راوړئ.

- ریښتیا ووایه! د غلط معلومات ورکولو په صورت کیدای شی چې ستاسو پناغوښتنی غوښتنه رد شی. دا خطر هم شته چې ته له ناروې څخه وشړی او په راتلونکی کښې نشې کولای چې ناروی او نورو اروپایی هیوادونه ته سفر وکړئ.

## ستا مکلفیتونه او حقوق د یو پناه غوښتونکی په توګه

**تاسې مکلف یاست چې د خپل هویت د تثبیتولو په اړه همکاری وکړې**

د ناروې دولت لپاره مهمه ده چې پوه شې چې ته څوک یې او څو کلن یې. نو له همدې امله ضروری ده چې هغه سندونه چې ستا هویت تثبیتوی، ور وسپارئ. که چیرې په خپل هیواد کښې د امنیتې ځواکونو تر تعقیب لاندې یاست، نو د ناروې حکومت تا څخه نه غواړی چې له هغوی څخه دخپل هویت د تثبیت لپاره تصدیق راوړئ.

که چیرې د ناروې چارواکې ستا د هویت په هکله شکمن وی، نو دا خطر شته چې:

- په تا باندې بـاور ونشی.

- ستا د اوسیدلو د اجازې د ترلاسه کولو چانس به کم شي.

- هغه حقوق به له لاسه ورکړئ کوم چې تا مخکښې لرل.

- تاته به د اوسیدو محدود اجازه لیک درکړل شي.

**تاسو مکلف یاست چې ریشتینې معلومات ورکړې**

د یو پناه غوښتونکی په توګه باید دا واضح کړې چې ولې پناه غواړئ؟ له همدې کبله باید هڅه وکړئ ټول اړین معلومات د همکاری په خاطر وړاندې کړئ.

د بل چا مشورې ته غوږ مه ایږدئ. هغه څه چې په ریښتیا تاسو باندې تیر شوې ناروې چارواکو ته ووایئ. غلط معلومات ورکول د سزا وړ دی او کیدای شی چې ستا د ناروې څخه د شړلو سبب وګرځی.

**د یو پناه غوښتونکی په حیث تاسو د کار کولو حق هم لرئ**
که چیرې تاسو وتوانیږئ چې د خپلی پیژندګلوی اسناد وړاندې کړئ، د مثال په توګه پاسپورټ، تر هغه وخته پورې چې خپل فیصلې ته انتظاریاست، د کار کولو حق لرئ. ستاسو موقتي سرپرست باید له دې پریکړې سره موافقه وکړي او ستا کار باید د زده کړو په لاره کښې خنډ ونه ګرځي.

**تاسو د طبـــي درملنــــې حق لـــرئ**
پناه غوښتني د عريضې د انتظار او جواب پر مهال تاسو د ضروري طبي درملنې حق لرئ. په ناروې کې هر هغه کس چې عمر يې له 16 څخه لوړ وي بايد هميشه دلګښتونه يوه برخه پخپله ورکړي. که چيرې تاسو رواني مرستو ته اړتيا ولرئ، نو دغسي لګښتونه د (UDI) له خوا ورکول کيږي. د زياتو معلوماتو لپاره دکيمپ له کارکوونکو سره په دې اړه اړيکه ونيسئ. که کومه سخته روغتيايي ستونزه ولرئ، نو بايد چې (UDI) او خپل سرپرست ته خبر ورکړئ.

**تاسو کولای شئ چې خپله د پناه غوښتنې غوښتنلیک بیرته واخلئ**
تاسو هر وخت کولای شئ، چې پخپله د پناه غوښتنې دغوښتنلیک بیرته واخلئ. نو په هغه صورت کښې تاسو ښایی د بیرته تک په اړه (IOM) څخه مرسته وغواړئ.

**غواړئ چې د خپلو والدینو یا د کورنی د پیداکولو په اړه تا سره مرسته وشی؟**
که غواړئ چې خپلو والد ينو يا د کورنی له نورو غړو سره د اړيکې نيولواو يا موندلو په اړه مرسته ترلاسه کړې، نوکولای شئ د کيمپ له کارکوونکو سره اړيکې ونيسئ.

د سره میاشت اداره کولای شي، چې تا سره ستا د کورنی په پیدا کولو کې مرسته وکړي.

## د راز ساتلوونده

پولیس، (UDI) او UNE د راز ساتلو ونده لری. دا په دې معنی چې هغوی نشي کولای چې ستا د پناهندکی د غوښتنلیک په هکله معلومات ستا د هیواد چارواکوته ورکړي. همدارنګه هغوی اجازه نلري ستاسو د غوښتنې به هکله بل چا سره خبرې وکړی څوک چې ستا د پناه غوښتنې له عریضې سره کومې اړیکې نلري. د راز ساتلو دونديې ماتول د سزا وړ دی. نو له همدې امله تاسو د دقیق او مفصل معلومات ورکولو څخه ډډه مکوئ.

ژباړون، قانوني وکیل، روغتیایي کارکوونکي او (NOAS) هم د راز ساتلو ونده لری. دا په دې معنی چې دوی هم حق نلری ستاسي خبرې بل چاته ووایی. حتی دوی ستاسو خبرې (UDI) او UNE ته هم نه وایی.



## پته

### د پولیسو د کډوالی یونټ (POLITIETS UTLENDINGSENHET)

پولیس د نوی پناه راوړونکو نومونه لیکي.
پولیس همدارنګه هغه پناه غوښتونکي چې د منفی ځواب څخه وروسته بیرته خپلو هیوادونو ته نه ستنیږي، په زور شړي.

**پستي پته:** Postboks 8102 Dep., NO-0032 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Christian Krohgs gate 32, 0186 Oslo
ټیلیفون: 00 24 34 22 47+، فکس: 80 24 34 22 47+
ایمیل: pu@politiet.no

### د کډوالو لپاره نارویجي ریاست (UDI)

یوه دولتی اداره ده چې د پناه غوښتنی غوښتنلیکونه، ویزه، د کورنیود غړو راغوښتل او د تابعیت چارې تر غورلاندی نیسی.
د کیمپونو ډېده هم د UDI په غاړه ده.

**پوستي پته:** Postboks 8108 Dep., NO-0032 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Hausmannsgt. 21, 0182 Oslo
ټیلیفون: 00 15 35 23 47+، فکس: 01 15 35 23 47+
وېب سایټ: www.udi.no، ایمیل: ots@udi.no

### د کډوالو نړیوال سازمان (IOM)

د خپلي خوښي د ستنیدني په هکله معلومات

**پوستي پته:** Postboks 8927 Youngstorget, NO-0028 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Storgata 10a, 2nd floor, 0155 Oslo
ټیلیفون: 20 53 10 23، فکس: 21 53 10 23 47+
ایمیل: osloreturn@iom.int

د اونۍ کاري ورځي: د سهار له 10 بجو څخه د ماسپښین تر 3 بجو پورې
شنبه او یکشنبي په ورځ: بند

**د ناروې د کډوالولپاره د شکایت کمیټه (UTLENDINGSNEMNDA – UNE)**
یوه نیمه قضایي اداره ده چې د یو ډي آی له خوا د رد شویو اړوندو قضیو شکایتونه ترغورلاندې نیسي.

**پوستي پته:** Postboks 8165 Dep., NO-0034 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Stenersgt. 1B/C, 0050 Oslo
ټیلیفون: +47 21 08 50 00، فکس: +47 21 08 50 01
وېب سایټ: www.une.no، ایمیل: postmottak@une.no

**د ناروې سره میاشت (NORGES RØDE KORS)**
د پلټنې خدمتونه وړاندې کوي. د کورنیو د هغو غړو ترمنځ چې د جګړې، شخړې یا مصیبتونو له امله یو له بل څخه بیل شوي وي د ارتباط په بیا ټینګولو کې مرسته کوي.
سره میاشت ستاسو په هکله معلومات یو ډي آی یا نورو ته نه ورکوي.
خدمتونه وړیا دي.

**پوستي پته:** Postboks 1 Grønland, NO-0133 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Hausmannsgt. 7, 0186 Oslo
ټیلیفون: +47 22 05 40 00
وېب سایټ: www.rodekors.no، ایمیل: tracing@redcross.no

**NOAS** د بشري حقوقو يوه غيرحکومتي سازمان دئ چې پناه غوښتونکو لپاره معلومات او حقوقي مرستې وړاندې کوي.

په دغه رساله کښې د هغه کسانو لپاره چې په ناروی کې د پناه غوښتنه کوي مهم معلومات شته.

NOAS


**NOAS (د پناغوښتونکو لپاره نارويجي سازمان)**
د ملاقات پته: تورګاتا 22، اسلو، ناروی
پوستي پته: Postboks 8893 Youngstotget., 0028 Oslo
تيلفون: 60 56 36 22 47+، فاکس: 61 56 36 22 47+
ويب سايت: www.noas.org، ايميل: noas@noas.org